مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۳/۱۳

# د طالبانو وروستی حکم

د افغانستان اسلامي اِمارت د بدخشان ولایت مسوولو مقاماتو، د روژې د میاشتي په دوهمه یعني ۲-۹-۱۴۴۵یو حکم صادر کړی دی چي په هیڅ توګه د اسلام د مقدس دین له اساساتو سره سرنه خوري. د بدخشان والي په پورتني تاریخ د برات یا شعبان د میاشتي د نهه ویشتمي ۲۹-۸-۱۴۴۵ د فیصلي په اساس په لاندي متن مکتوب صادر کړی دی:

بسم الله الرحمن الرحیم

موضوع: راجع به ابلاغ فیصله جلسه امنیتی مورخ ۲۹-۸-۱۴۴۵ مقام ولایت.

به ریاست محترم ارشاد، حج و اوقاف!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاتهُ.

حسب فیصله جلسه امنیتی مورخ ۲۹-۸-۱۴۴۵ مقام ولایت هدایت داده میشود؛ افراد که نماز تراویح را (۸) رکعت اداء مینمایند شناسایی نموده، غرض تصامیم بعدی به مراجع کشفی و استخباراتی رسماً معرفی شوند.

با احترام

الحاج مولوی محمدایوب « خالد»

والي بدخشان

کاپیها

به ریاست محترم استخبارات.

به ریاست محترم امر بالمعروف و نهی عن المنکر.

لومړی خو ما( جهانی) څو میاشتی مخکي او دغه راز بنایی دوه کاله مخکی، د معتبرو احادیثو په استناد، وښودله او ثابته مي کړه چي تراویح په اسلام کي نسته. تراویح نه د قرآن شریف په حکم فرض سوي او نه د حدیث شریف په حکم سنت سوي دي. بلکه تراویح د عمرفاروق بدعت دی؛ په داسي حال کي چي دا صلاحیت نه له عمر او نه له بل هیڅ مسلمان سره موجود وو چي یو لمونځ جوړ کړي او پر هغه باندي د تراویح نوم کښیږدي.

مخکي له دي چي دی بحث ته ولاړ سم چي تراویح یو تش بدعت دی، داسي به یي فرض کړو چي تراویح سنت لمونځ دی. سوال دا دی چي دا په کوم کتاب کي راغلي دي چي سنت لمونځ دي په جماعت اداء کړه سي؟ جماعت یوازي د لمانځه د فرض رکعتونو لپاره راغلی دی. اوس به نو زه بیرته هغه احادیث، چي بنایی دوه ځله مي راوړي وي، یو ځل بیا د خپلي ادعا د اثبات لپاره راوړم.

د صحیح بخاري ۲۰۱۰ او په بخاري کي د کتاب الصلواة التراویح دریم حدیث وایي:

عبدالرحمن بن عبدالقاري وویل: « زه د روژې په میاشت کي یوه شپه له عمر بن الخطاب سره مسجد ته ولاړم او هلته مي ولیدل چي خلکو د بېلو بېلو ډلو په شکل لمونځونه کول. یو سړی به یوازي ولاړ ووو یوه بل سړي بیا له یوې وړې ډلي سره، چي تر شا به یي ولاړ ول، لمونځ کاوه. نو عمر وویل زما په عقیده بهتره به دا وي چي دا کسان د یوه امام تر شا راغوند کړم څو په جماعت لمونځ وکړي. نو یي اُبی بن کعب ته وویل چي د خلکو امامت وکړه. زه یوه بله شپه بیا له عمر سره مسجد ته ولاړم او هلته مي ولیدل چي خلک په یوه امام پسي ولاړ دي. عمر چي دوی ولیدل نو په زوره یي وویل چي څه ښه بدعت مي وکړ ( نِعمَ البدعة هذهِ)

د همدغه کتاب په پنځم حدیث کي راغلي دي:

یحیی بن بُکیر د اللیث او هغه د عقیل او هغه د ابن شهاب او هغه د عُروة له قوله وایی چي ده ته عایشي رض وویل چي « پیغمبرص یوه شپه د شپې په منځ کي مسجد ته ووت او ځینو کسانو په هغه پسي لمونځ وکړ. په سهار خلکو یوه بل ته وویل او په بله شپه زیاتو کسانو په پیغمبرص پسي لمونځ وکړ. په وریسي شپه د خلکو شمېر نور هم زیات سو. په څلورمه شپه په مسجد کي دونه خلک را جمع سوي ول چي خلکو ته ځای نه وو. پیغمبرص په هغه شپه مسجد ته ور ونه ووت. په سبا سهار پیغمبرص له خلکو څخه پوښتنه وکړه چي پوهیږی زه ولي تېره شپه راونه وتلم. علت یي دا دی چي که زه تېره شپه هم راوتلی وای نو تاسی به دا لمونځ پر ځانونو باندي واجب کړی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

او بیا به مو کولای نه سوای. پیغمبر وفات سو او وضع په هغه شکل دوام وکړ او خلکو به د شپې له خوا په ځانګړي ډول لمونځونه کول»

همدغه حدیث په همدغو عباراتو په صحیح مسلم او د احادیثو په نورو کتابونو کي راغلی دی. او په څرګنده ښکاري چي دا د عمربن خطاب بدعت دی او عبدالرحمن بن عبدالقاري د عمر له خولي وايي چي هغه پخپله وويل چي څه ښه بدعت مي وکړ.

اوس نو طالبان د کوم شرعي حکم په اساس خلک د تراویح لنډولو او یا نه کولو په ګناه استخباراتو ته معرفي کوي چي هلته به حتماً سخته سزا هم ورکوله کیږي؟ او که چیري له عمر بن خطاب سره د هغه بدعت ومنو بیا سوال دادی چي دا چا ثابته کړې ده چي تراویح شل رکعته دي، که اته رکعته دي او یا لږ یا ډېر؟

البته د طالبانو زور څوک نه لري. هغوی چي څه غواړي هغه کولای سي. د زور اوبه پر لوړه خیژي. او که یې داسي فرض کړو چي تراویح سنت دي او باید چي د روژې په میاشت کي حتماً شل رکعته په جماعت وسي ځکه چي دا د طالبانو حکم دی. نو بیا خو د سنت کمول، قضا کول او حتی پرېښنو دل داسي ګناه نه ده چي مرتکب يي باید د سزا لیدلو لپاره استخباراتو ته معرفي سي. لوستونکو ته دي معلومه وي چي که څوک لمونځ قضا وکړي نو قضایی یوازي فرض رکعتونه کیږي. هیڅوک د قضایی لمانځه په وخت کي سنت رکعتونه نه کوي او د دې معنا دا ده چي سنت اختیاري شی دی. طالبانو ته څوک د هدایت دعا هم ځکه نه سی کولای چي هغوی ټول کارونه قصداً کوي.

[په افغان جرمن آنلاین کي پورتال د لیکوال آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ